**له اوتریش څخه افغانستان ته**
**افغانستان ته د ډیپورت شویو په اړه څېړنه**

*"البته هرڅوک غواړي چې یو خوندي ژوند ولري، داسې یو ځای کې ژوند وکړي، چې هلته کاراو تحصیل وکولی شي او نوی ژوند جوړ کړي اوتریش زما د خوبونومقصد و. " (دهقان )**

د بشري حقونو له ټولو اندیښنو سره سره: په پام کې دې چې د فبروري په ۲۳ مه ، له اوتریش څخه افغانستان ته د نه منل شوي پناه غوښتونکویوه ډله ولیږدول شي. داچې افغانستان کې د شړل (ډیپورت) شویوکډ والوژوند له راستنېدووروسته څنګه تېرېږي، دویانا دیالوګ او نړیوالې همکارۍ انستیتوت (VIDC) د دغې پوښتنې د سپیناوي لپاره یوه څېړنه کړې. په دې څېړنه کې چې له مارچ تر سپتمبرمیاشت، کال۲۰۲۰ تر سره شوې، له هغو۱۶ تنوکډوالوسره مرکه شوې چې د ۲۰۱۵او ۲۰۲۰کالونو ترمنځ له اوتریش څخه خپل هېواد ته راستانه شوی دي. له دوی څخه دری تنه دکډوالو نړیوال سازمان (IOM) د بېرته ستنیدوپروګرام په چوکاټ کې په خپله خوښه هېواد ته ستانه شوي ، پاته نور یې له اوتریش څخه په زورشړل شوي .

دا لومړۍ څېړنه ده چې له اوتریش څخه افغانستان ته په زوراستول شویواوپه خپل خوښې ستانه شویو په اړه په VIDC سازمان کې مشاور، ښاغلي علي احمد لخوا اوپه کابل کې د افغانستان دسولې او پراختیا یې څېړني سازمان په همکارۍ ترسره شوې او د اوتریش د پراختیایي اداری(اجنسي)، (ADA) لخوا تمویل شوې. څنګه چې د اوتریش څخه د راستانه شویو اوپه زوراستول شویو لوی اکثریت نارینه دي ، نولدې امله څېړنه کې په همدغې ډلې تمرکزشوی دی. د مرکو پایله هغه ګواښونه او ننګونې په ډاګه کوي چې افغان راستنیدونکي په افغانستان کې ورسره مخ دي. په ټولنه کې د ادغام اصلي ننګوني کومې دي؟ د بیا مهاجرت لپاره لاملونه څه دي؟

**لومړۍ ننګونه : د تاوتریخوالي دکچې لوړوالی**

*" زه یوازې یو کلن وم چې افغانستان مې خوشې کړی و اودیو ډیپورټې په توګه بېرته ستون شوم . د ډیپورت اداری ځارونکو زه تر کابله بدرګه ( اسکورټ) کړم. کله چې موږ د کابل هوايي ډګرته ورسېدو، طالبانو د یوه ستر ځانمرګي برید سره چې په کابل کې د جرمني د سفارت مخې ته تر سره شو، له موږ هرکلی وکړ. په دغه چاودنه کې تر 500 ډیر کسان مړه یا ټپیان شول. زه شاک وهلی او هک حیران وم. " (نادر)*

هغه څه چې نادر په ۲۰۱۷ کې د کابل هوايي ډګرته د رسېدوپرمهال تجربه کړل، ددې بېلګه ده چې دافغانستان امنیتي وضعیت د را ستنېدونکو پرژوند څومره اغېزه لري. راستانه شوي له دې وېره لري چې د ناڅاپي ځانمرګي بریدسره به مخ شي، د طالبانو دبرید هدف به وګرځي اویابه دجنایتکارۍ ډلې لخوا وتښتول شي:

*"کېدی شي ته وتښتول شي، که د خوشې کېدولپاره نغدې پیسې درسره نوي نوکیدی شي و وژل شي." اوس زه له هغه مقناطیسی بمونو ویره لرم چې طالبان یې په موټرکې کاروي. "(سیاوش)*

په افغانستان کې د ۲۰۱۴ کال را هیسې کله چې نړیوالې ټولنې خپل پوځې سرتیري له افغانستان څخه وایستل، عمومي امنیتي وضعیت په چټکۍ سره مخ په خرابېدو شوی. یوازې د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهومیاشتو کې ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې ماموریت ۲۱۱۷ ملکي مړي او۳۸۲۲ ټپیان ثبت کړي – دا پداسې حال کې ده چې د۲۰۲۰کال د فبروري په ۲۹مه د دوحې په قطر کې د طالبانو او د امریکا دسولې خبرواستازې ترمنځ د سولې تړون لاسلیک شوی.

**دوه یمه ننګونه: اقتصادي ناکامي**

*"افغان حکومت په ټولنه کې د راستنیدونکودبیا ادغام اوله هغوی سره د مرستې لپاره نه د کاغذ پرمخ، نه په عمل کې کوم پلان لري." (عباس)*

له 16 پوښتل شویو څخه ، 13تنو سره لدې چې د راستنېدوله مودې وروسته د ثابت عاید او ټولنیزو خدماتو ته دلاسرسي لپاره مبارزه کړې، له ګڼ شمېر اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي. هغوی په اوتریش کې دڅوکالونو ژوند له امله ، په افغانستان کې خپل ملګري اود ټولنیزو اړیکوډېره برخه له لاسه ورکړې. دهغوی ټولنیزموقف او مسلکي وضعیت د مهاجرت د مخه حالت په پرتله خراب شوی ، ځکه چې دوی په کوربه هیواد کې د زده کړې دوام اودخپلو مسلکي وړتیاوو د ښه والي فرصت نه درلود. له ډیپورت وروسته اقتصادي ستونزې د ځینو بېرته ستانه شویو، لکه بابرلپاره پر" ژور زخم دمالګې شیندلو" په څېردي:

*"له ډیپورت وروسته اقتصادي اړتیا ترټولو سخته ننګونه ده هرهغه څوک چې له اوتریش ، جرمني او نورو اروپایي هیوادونو ډیپورت شي، د اقتصادي ستونزو له امله لیونی کېږي. "(بابر)*

له هغې ډلې سره چې "په خپل خوښه" هېواد ته ستانه شوي، د مرکي په ترڅ کې معلومه شوه چې د نسبتا ښه اقتصادي وضعیت څخه برخمن دي. دوی کابل ته د رسیدو پرمهال له IOM څخه د شاوخوا۳۰۰۰ امریکایي ډالرود مرستي

کڅوړه (بسته) ترلاسه کړي. خوسره لدې د مرستي نومړي کڅوړې په ټولنه اوپه کار بازارکي د دوی د بیا ادغام لپاره دومره ګټور نه وه .
دغه ډله له حکومتي اومحلي سیاستوالوسره د دوی شخصي اړیکي له امله توانېدلي چې دایمي کار ترلاسه کړي، خو داکار یو قیمت لري : *"که ته د افغان حکومت لپاره کار کوې ، طالبان هڅه کوي دتاد کارکولومخه ونیسي . که چېرې دوی و نشی کړی د تا مانع شي نودوی به تا ووژني. زه هره ورځ له دې ننګونو سره مخ یم. کله چې سهار خپل کور پرېږدم ، زه نه پوهیږم چې بیرته به ژوندی راشم، که نه! "(سیاوش)*

**دریيمه ننګونه: د ټولنیزې اړیکو له لاسه ورکول**
*"زه اوس لکه پخوا دومره ټولنیزې اړیکې نلرم. زما ډیری ملګري یا وژل شوي یا يې هیواد پرېښي.. "(دهقان)*
نیږدې ټول هغه کسان چې افغانستان ته بیرته ستانه شوي له ورته ستونزو سره مخامخ دي. ډیرلږوکسانو دخپل کور، کلي او ملګرو سره اړیکه لري. اویا داچې ځیني له هغو ولایتونو څخه دي چې اوس د طالبانو لخوا کنټرول کيږي اود بد امنیتی وضعیت له امله نشی کولی هلته سفروکړي. د 16 پوښتل شویو څخه پنځه يې حتی په ایران یا پاکستان کي زیږیدلي دي. د راستنا نه شویو دغي ډلي لپاره ، افغانستان یو بهرنی هیواد دی چې دوی يې یوازې د خپل موراو پلارله خولې اودرسنیو راپورونو له مخې پیژني:
*"کله چې زه په ۲۰۱۷کال کې کابل ته ورسیدم ، (...) پلار ته مې چې په ایران کې ژوند کا و، زنګ وواهه. د خپل ځای موقعیت مې ورته ولیږه ځکه چې زه په کابل کې بلد نه وم. پلارمې زما موقعیت خپل هغه ملګري ته چې له پخوا يې په کابل کې پیژنده، ولیږه ، هغه راغی او زه يې له هغه ځایه خپل کور ته یوړم . زه د هغه په کور کې پاتې شوم تر هغه چې زما پلار له ایران څخه راغی او زه يې له ځانه سره بوتلم. "(نادر)*
**څلورمه ننګونه: ناحقه بدنامي یا ټاپه وهل**
*د کورنی مې زه نه خوښیږم ځکه چې زه ډیپورتي یم. له اوتریش څخه شړل کېدل ماته د ډېرشرم خبره دی. زما ورور په ایران کې کار کوي او خپلو پنځو ماشومانو او میرمنې ته پیسې را لیږي. خو ما ته وګوره! زه هیڅ یم . زه هم خپل ورورته اړیم. کاشکې مایه خپله د یوعاید سرچینه لرله." (بابر)*
ناحقه بدنامي یا ټاپه وهل شاید ترټولو سخته ټولنیزه او رواني ستونزه وي چې ډیپورت شوي کسان ورسره مخامخ کیږي. ټول 16 پوښتونکي د بیرته راستنیدو راهیسي بد نامي اوانزوا په یو ډول تجربه کړې . خلک دوی ته د "بایلونکي" ، " ډیپورتیي" یا "مجرمینو" په سترګه ګوري:
*"له راستنیدو راهیسي زه تل سر خوږی او روحي فشار لرم . ډېرځلي زما اشنایان له ما څخه پوښتنې کوي چې ولی ډیپورت شوی یم؟ دوی فکر کوي چې ما به حتما کوم جرم کړی وی. د دوی لپاره ، ډیپورت د جرم په معنی دی . "(حمزه)*
**د بیا مهاجرت لاملونه**
مصاحبه شویو په هیواد کې ورځ تر بلې خرابیدونکي امنیتي حالت له افغانستان څخه د بیا وتلو اصلي لامل ښودلی :
*"زه به د اروپا په لوردغه له ګواښه ډکه لارې ته یوځل بیا مخه کړم. زه پوهیږم چې دغه لاره د پخوا په پرتله خورا خطرناکه او ستونزمنه ده. مګر په افغانستان کې زه یوازې خپل مرګ ته په انتظار یم. د انتظار پر ځای ، زه به دغه له خطره ډکه لاره ونیسم. "(زرګی)*
اقتصادي زیانونه دبیا مهاجرت یوبل لامل دی. له پوښتل شوي کسانو څخه ، یوولس تنوځرګنده کړه چې دوی خپله یا مور او پلار يې ځمکه ، موټرونه ، د کور ګاڼي (زیورات) ، خپل کور چې دوی یکې اوسیږېدل، پلورلي یا له ملګرو او خپلوانو څخه پیسې پوراخیستی . دوی پدې تمه ول چې څومره ژر يې په اروپا کې پښې ټینګې شوي نوکولی شي سمدستي دا پورونه چې زرهاو یوروته رسیږي، پرې کړي . مګرله ډیپورت وروسته ، دوی د دې توان نه لري چې خپل پورونه ادا کړي. له یوولس تنوڅخه ، اوو تنو يې څو ځلې هڅه کړې چې له افغانستانه ووځي.
*"دموږکورنی یو دکان درلود، هغه مو د پلارله موټر سره یوځای خرڅ کړ. ما د خپلو خپلوانو څخه هم پوروکړ، تر څو لارې لګښتونه پرې پوره کړم. زه له هغوی لا تر اوسه هم یو څه پوروړی یم." (بابر)*

**غوښتنې**
*د اوتریش چاروکي باید افغانستان ته راشي او وضعیت په خپلو سترګو وګوري. ترهغه چې دوی خپله د ډیپورت شویو درد احساس نه کړي، دوی پرې نه پوهیږي. "(اسد)*

**افغانستان امن هیواد نه دی:**
د افغانستان حکومت نشی کولی خپل اتباع د تاوتریخوالي څخه وساتي. په ۲۰۰۱کال کې د طالبانو د واکمنی له سقوط راهیسي ، طالبانو تر پخوا هر وخت ډیرې سیمې تر کنټرول لاندې راوستي دي .په پایله کې ، افغانستان د

راستنيدونکو لپاره هم د امن ځای ندی. د اوتريش دولت بايد پرته لدې چې اروپايي ټولنې له افغان حکومت سره دکډوالو بېرته استولوکوم تړون لاسليک کړی وي، افغانستان ته د افغانانو ليږدول سمدستي ودروي.

**پناه غوښتونکو ته بايد په اوتريش کې دکارزمينه برابره شي:**

په اوتريش کې پناه غوښتونکوته دکار بازارته، تعليمي سيستم او ټولنيز-سياسي ژوند ته لاس رسی به راستنيدونکو ته دامکان برابره کړي چې په افغانستان کې له خپلو مهارتونو او تجربو څخه کار واخلي. داکار به د هغوی اقتصادي او رواني فشارونه هم لږ کړي.

**افغانستان کې د راستنېدونکو لپاره دادغام پروسي دملاتړسيستم رامينځته کول:**

*اوس* مهال د افغانستان حکومت دبيرته راستنيدونکو لپاره د اغيزمني مرستي د چمتو کولو توان نلري. له همدې امله، بايد د بيا ادغام دملاتړيوسيستم رامينځته شي ترڅوټول را ستنېدوکي دافغانستان کار بازارته ورګډ شي . دا به نه يوازې د افغان حکومت دنده وی ، بلکې دډيپورت کونکو هېوادونو- لکه اوتريش، دنده هم وي اوبايد چې دا کار په اوتريش کې د دياسپورا سازمانونو سره په ګډه، د نړيوالومرستنديو مؤسسواو ځايي سازمانونولخوا تنظيم شي.

*په دغه خبرنه کې ټول نومونه بدل شوي(مستعارنومونه دي).

مالومات اواريکه:
ميخايل فنی زاده
دويانا ديالوګ اونړيوالو همکاريوانستيتوت( VIDC)
دايميل پته: fanizadeh@vidc.org
د اړيکې شمېره: +43660416786